ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31

ماخذ تحقیقی مجلہ

OPEN ACCESS

CC BY NC

**ڈاکٹر مظہر احمد**
اسسٹنٹ پروفیسر، شعبہ پشتو، مالاکنڈ یونیورسٹی
**لیلیٰ گل**
پی ایچ ڈی ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو، مالاکنڈ یونیورسٹی
**عنایت الرحمان**
پی ایچ ڈی ریسرچ سکالر، شعبہ پشتو، مالاکنڈ یونیورسٹی

# په دستار نامه کښې د ښځو په حقله د خوشحال خان خټک نظريات

**Dr.Mazhar Ahmad**
Assistant Professor at Pashto Department University of Malakand.
**Laila Gul**
PhD Research Scholar at Pashto Department University of Malakand.
**Inayat Ur Rahman**
PhD Research Scholar at Pashto Department University of Malakand.

***Corresponding Author:**

# Idias of Khushal Khan Khattak About Women in "Dastaarna"

**ABSTRACT**
Khushal Khan Khattak is known as the most versatile figure in Pashto literature. Khushal Khan was a poet and a writer. Khushal Khan Khattak, during his imprisonment in the Fort of Ranthambhore (India) wrote a book "Dastarnama" such a complete and useful book on aptitude. In this book, Khushal Khan Khattak has also called dastar as a sign of a man's modesty and honor. This paper examines all of Khushal's ideas regarding the "Manual" that he holds about a woman.

**Key Words:** *Khushal Khan Khattak, Dastaarna, Idias about women.*

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31
ماخذ تحقیقی مجلہ

د پښتو ژبې او ادب د پرمختګ دپاره چې کومو شخصیاتو د قدر وړ کوششونه او زیارونه کښېباسلي دي په هغه ښاغلیو کښې د ستر خوشحال خان خټک نامه په سر کښې راځي- څوک چې د شهباز خان په څلور زامنو کښې تر ټولو مشر زوے ؤ- د هغه مور بي بي یانه د کوهاټ د یو کلي جلوزی سره تعلق لرلو- خوشحال خان خټک په سراے اکوړي کښې چې ملک پور به یې ورته هم وئیلو، په کال ۱۰۲۲ ھ بمطابق ۱۶۱۳ء کښې زیږیدلے ؤ-(۱)

خوشحال بابا د خپلي زوکړي دغه نېټه د پښتو او فارسی دواړو ژبو کښې په قطعه کښې بیان کړي ده-

خوشحال خٹک در ربیع الثاني
آمد چودریں کہنہ رباط فاني
حق کردندامر اورا خیر رسال
تاریخش گشت خیر عالمیاني(۲)

دي قطعه کښې د ”خېرعالمیاني“ نه د ابجدو په حساب ۱۰۲۲ راځي چې د خوشحال خان خټک د زوکړي کال دے-

خوشحال بابا د نظم او نثر دواړو د مېدان یو کثیرالتصانیف شخصیت ؤ- چې د اثارو د شمېر په اړه ډېرو پوهانو خپلي رائې قایم کړي دي- په دغه ښاغلیو کښې نامتو مستشرق مېجر راورټي وائي چې خوشحال خان خټک تقریبًا دري سوه او شپېته کتابونه لیکلي دي-(۳)

څه که هم د راورټي دغه دعوه یوه مبالغه ګڼلې شي ځکه چې د خوشحال دومره کتابونه زمونږ سره لا تر دي دمه په لاس نه دي راغلي- خو بیا هم د بابا تقریبًا دولس کتابونه د پښتو ادب زینت ګرځېدلے دے او د پښتو ادب پنګه یې د معیار او مقدار دواړه له رویه درنه کړي ده چې دوست محمدؐ کامل مهمند پرې په خپل کتاب کښې تفصیلي بحث کړے دے- (٤)

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31
ماخذ تحقیقی مجلہ

د نثر په حواله د هغه دستارنامه زمونږ سره په پوره کتابي شکل کښې موجود ده چې په پښتو ادب کښې يو ځانګړے مقام او اهميت لري- ځکه چې هم دا هغه اثر دے چې پښتو نثر يې د مسجع او مقفٰي انداز د لومې نه ازاد کړے دے او د ازاد او روان نثر بنياد يې پرې ايښے دے- دستارنامه خوشحال بابا په رنتمبهور کښې د قېد په اوان کښې په ١٧ ربيع الاول ١٠٧٦ ھ (ستمبر ١٦٦٥ء) کښې ليکلے دے- (٥)

د دستارمې د ليکنې دا نېټه خوشحال بابا هم په دغه کتاب کښې په خپله يوه قطعه کښې د ابجدو په حساب بيان کړے دے-هغه قطعه څه داسې ده،

"دا کتاب چې په پښتو خوشحال انشاء کړهْ،
پخوا نه دے انشاء کړے پښتانه،
که تاريخ يې د انشا له مانه غواړې،
وايم دا بس دے محنت د بېلتانه"
(٦)

د ذکر شوي قطعې د اخري مصرعې "وايم دا بس دے محنت د بېلتانه" نه د ابجدو په حساب ١٠٧٦ جوړيږي چې د دستارنامې د ليکنې کال دے-

دستارنامه د خوشحال بابا د نثر يو داسې کتاب دے چې د خپل اهميت په حوالې سره ګڼ اړخونه لري چې د يو مشر يا سردار د ټاکنې او د سرداري يا مشري کولو دپاره پکښې د شلو هنرونو او شلو خصلتونو په بڼه هغه اصول بيان کړې شوي دي کوم چې په دغه لړ کښې ډېر مهم او ضروري دي-

د مشرئ او د سردارئ د اصولو او قواعدو نه سربېره د خوشحال بابا په دې کتاب کښې نور هم بلها داسې معاشرتي،کلتوري،معاشي او مذهبي وغېره باندې زيرک نظر او د حکمت نه ډک نظريات

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31

ماخذ تحقیقی مجلہ

په لاس راځي چې د دستارنامې د موضوعاتو لمن يې ډېره غزولې ده- په دغه نظرياتو کښې يو د هغه د ښځو په اړه نظريات هم دي چې دلته پرې د ژوند په مختلفو مرحلو بحث کولې شي-

## د لور پېدائش:

د اولاد په حقله تقريبًا هر انسان دا خواهش او ارزو لري چې د هغه دې نارينه اولاد اوشي او د زنانه اولاد په پېدائش هغه شان خوشحالي نه کوي څنګه چې د زوي په پېدائش کوي او ځيني خو پرې خفګان هم کوي- خو خوشحال بابا د داسي قسمه بې انصافه ارزوګانو او رويو غندنه کوي او وائي چې که صرف نر اولاد د هر چا وي زنانه نه وي نو د نړۍ نظام به د جمود ښکار شوے وي ځکه چې مردان که پېدا کيږي خو هم د زنانه نه پېدا کيږي- لکه چې وائي ـــ

> **"د ځوئي په زوو خو ښادي اما د لور په زوول هم دلګيري نه بويه- خداے زده چې بخت برکت په کوم کښې دے- او هم دا لونه دي چې مردان ترې پېدا کيږي که واړه ځوئې (ځامن) وے جهان به خراب شۀ- حديث د رسالت پناه دے-**
> **لَوْ اَطَاعَ اللّٰهُ اَلنَّاسُ فِي النَّاسَ لَمْ يَكُنْ نَاسٌ-**
> **دا هم حديث دے-**
> **مَنْ بَرَكَتَ الْمِرَاَةَ نَبْكَرَ هَا بِالْاُنْثٰي-**
> **اول چې لور وزيږي لا مبارکه وي-" (۷)**

## د لور تعليم و تربيت:

د نړۍ په هره سيمه او هر دور کښې د هر انسان دپاره هر قسم تعليم او تربيت حاصلول يو ضروري امر دے چې په دې هغه د خپل قام، معاشري او هېواد دپاره يو مفيد او کامياب وګړے وګرځي او يو تهذيب يافته معاشره په وجود کښې راشي- او چونکي نارينه او زنانه دواړه د

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31



یوې معاشرې او چاپېریال دوه مهم غړي دي۔ ځکه نو د دواړو دپاره علم حاصلول او ښه روزنه لازم دي۔ څه که هم زمونږ په پښتنې معاشره کښې د زنانو زده کړې ته ډېر پام نه دې شوے او هغه شان اهمیت ورته نه دے ورکړې شوے څنګ چې پکار دے۔ خو ستر خوشحال په هغه دور کښې هم د زنانو د تعلیم او تربیت اهمیت مسلّم ګڼلے دے او په دغه حواله هغه ښځې د نارینو سره یو شان څه چې د هغوي نه زیات د پاملرنې جوګه ګرځولې دي او د زنانو دپاره دیني او عصري علومو د حاصلولو سره په هر قسمه تربیت باندې زورنه کوي هغه که د کور د بلها کارونو زده کول دي، د اخلي پخلي کارونه دي، ګنډل وینځل دي،که مېلمه مېزمه خاطر مدارت دے او که د کور د وګړو او مشرانو ادب کول یا خیال ساتل دي - لکه چې وائي

**" لکه تربیت د زوي لازم دے مینه پرې پکار ده۔ داسې په لور مینه پکار ده۔ بلکې لوریانې زیاتې محقې دي۔ د هلک والي د روزنې کار خو لکه د زوي دا شان د لور۔ خو لور دې نیازبینه ساتلې شي۔ د عفت، د شرم، د حیا، دعصت وینا ګانې دې ورته کیږي۔ د قرآن د لوستلو، د مسائلو کتابونه چې د عبادت، طاعت وقوف یې ټول د سنن د فرضونو د دین د کارونو وشي۔ شیرین بیانونه، مرغوب، اقوال د بزرګانو مشائخو، رنګین حکایتونه دې یاد کړي۔ افسانې، قیصې دې هم زده کړي۔ شطرنج، نرد دې هم زده کړي۔ کار د ستنې، لکه د ګنډلو مهارت دې هم تمام وي۔ د رشتن د پختن، د کور ارسته کول، آرائش د خپل ځان، د خوشبویی د جوړولو پوهه دې هم ډېره وي۔ د لیکلو**

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31

کار خو دومره چې په حساب، کتاب، شمېر، د رقم کولو دې پوهه شي۔ د مفرح، د شربت جوړول دې زده کړي۔ د خوراک کار، د الوانو پخول دې زده کړي۔ د خوراک په راوستو او کښېخودلو دې پوهه شي۔ د جامو په شکستلو په جوړولو په وينځلو او رنګ کولو دې پوهه شي۔ که د نقاشي په علم کښې څه زده کړي نو هم ګنجائش لري۔ څومره نوعه کشېدې چې وي ټولې دې يې زده وي که په دې کارونو پوهه نه وي۔ نقصان يې دے۔ د مرو، د جواهرو په قدر و قيمت دې پوهه شي۔ د قرآن بزرګ سورتونه، بزرګې دعاګانې چې څومره يادولې شي دومره دې يادې کړي۔ د قصيدو، غزلونو، نظم، شعرونه دې هم لږ ډېر ياد کړي۔ ديوانونه دې نه ګوري۔ خو بوستان، ګلستان۔ هر کله چې د نهه کالو شي د والد، د مشرانو ورونو او د ترونو سره دې هم ادب اوسيږي۔ ګستاخ ناسته ولاړه وئيل دې نه کوي۔" (۸)

خوشحال بابا يواځې د وينا تر حده د لور د تعليم او تربيت قايل نه ؤ بلکې په خپل ژوند کښې يې هم د خپلې دغې وينا عملي مظاهره په لاس راځي چې هغه خپلو لوريانو باندې هم د هغه وخت ټول مروّجه علوم حاصل کړي وو۔ څه که هم د هغه د ټولو لونړو په حقله معلومات زمونږ سره نشته۔ خو بيا هم د هغه د دوؤ لونړو حليمه بي بي او تاج بي بي په حقله معلومات زمونږ په تاريخي اثارو کښې خوندي دي۔ د حليمه بي بي په حقله محمدؐ هوتک بن داؤد ليکي چې:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31



> " د خان علیین مکان خوشحال خان خټک لور وه، چي د عبد القادر خان خټک سکه خور کېده، زما پلار هسي روایت کا چي زه بنو ته ولاړم په هغه وقت دا پښتنه ژوندی وه او د خپل پلار په ژوند یې مروجه علوم ولوستل او بیا د شیخ سعدي لاهوري رحمة الله علیه مریده سوه او د خپل ورور عبدا القادر خان په لاس یې بیعت و کا ، چي هغه هم د شیخ دوران خلیفه ؤ . روایت کا چي حلیمه بي بي فاضله او عارفه ښځه وه او په سراپرده د او د خالق عبادت کا او د خپل ورور عصمت ناسته ده مېړه یې نه دي کړي عبد القادر خان په کور کي نورو ښځو ته لوستل کا او قرآن عظیم یې هم په یاد دئ زما پلار وویل چي حلیمه بي بي په پښتو ښه اشعار هم وایي او په خپل عصر سرآمد اقران ده او موزونان د پښتو یې اشعار خوښوي، د تصوف او طریقت کتب یې ټول لوستلي دي۔" (۹)

دا رنګ د تاج بي بي په حقله خپله خوشحال وائي چې،

> " تاج بي بي بیماره وه په داوتل کښې ومره په موجب ددے د وصیت د فقیر کره ورورے شوه دنیا د ځنګه ښخه شوه۔ نېک بخته لور مے وه۔ قرآن کتابونه ئې لوستلي وو۔ په طاعت په عبادت کښے وه حق تعالي ئې وبخښه۔" (۱۰)

## ستر / پرده

په حېثیت د مسلمان او پښتون قام زمونږ د زنانۀ دپاره ستر پرده کول لازم دي۔ ځکه چې په دي د زنانه د ناموس او عزت حفاظت سره سره د

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31

معاشري د ډېرو ناوړو او بد امنی مخ نیوي هم په عمل کښې راځي- په دې حوالي سره د خوشحال بابا نظريات د اسلامي اصولو او قواعدو سره عېن مطابق او ورته دي- هغه د یوې کورنی او معاشري دپاره هغه زنانه د زوي نه هم زیاته نېکبخته ګڼي څوک چې څلور قسمه ستر پرده کوي، چې وړومبے د نامحرم د نظر نه ځان بچ اوساتي، دویم د نامحرم دې نوم هم وا نه اوري، دریم د خپلو سترګو حفاظت او څلورم د په ازاد ځایونو دې نه ګرځي- لکه چې وائي:

" څوارلس کالو ته چې ورسېږي- د حق پوره کولو وخت يې دا دے- دې حال ته چې ورسېږي پکار ده چې څلور قسمه پرده اوکړي- وړومبے يې د ځان پرده ده چې سېورے هم نامحرم اونه ویني- بله د غوږونو چې د نامحرم نوم څوک وانخلي- بله د سترګو ده چې داسې د کور په ګوټ کښې کښېني چې په چا يې سترګې اونه لګي- په اوچت ځائې اودرېدل په لوړه ختل، چرته دې هم په غولي نه ګرځي- څلور قسمه پرده چې بغېر د مور، خور، ورور یا محرم خدمتګاره د چا سره خبرې اونه کړي- که چرې دا څلور قسمه پرده يې اوکړه- د زوي نه به خوش نصیبه لور وي- که د پلار کره وي- نو د دین لوئ سعادت يې اوګټو- په کتاب کښې يې لیکلي دي چې هغه لور به ده- چې شله هم وي، ګونګې هم وي- مقصد يې هم دغه څلور قسمه پرده ده- که پرې ټینګه شوه- شله، کڼه، ړنده او ګونګې شوه- هاله به يې دا څلور کارونه روزي شي- که ناسته د هیچا سره نه کړي- د یوائې ناستې

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31



> خوئي واخلي۔ د هغوي سره به وي که پاکه کښېني۔ که چرې دغه ځلور کارونه پکښې وي نېکخواه به يې وي۔ ښوک هم نېکخواه نشته خو پلار، مور، ورور، خور، ترور، خپل خاندان په غم ښادی کښې شريک، په شرم شريک۔ بيا په دې کښې هم فرق دے چې اوښياره او عاقله وي د هغې سره دې کښېني۔ که چرې کمعقله وي، که يې خپله وي هم دې ورکه شي۔ تر څو چې توانېږي په دې کار دې کوشش کوي۔ د بل ملک يا د کلي ښځې دې داسې گڼې لکه نامحرم۔ په جل والي او په واده دې هم دا سرشته همېشه په ځائې لري۔ لکه چې ښځه ده داسې دې ښځه وي چې اواز جامه يې ښوک په سترگو اونه ويني۔ دا ټوله سرشته په ځائې پکار ده۔ د هغې وخته پورې د بچو مور شي۔ د خېلخانې د دولت مالکه شي۔" (۱۱)

د ښځې د ستر پردې په حواله د خوشحال نظريات دومره واضح او سخت دي چې په دغه لړ هغه وائي چې که يوه ښځه د خاوند د اجازې نه بغېر بې پردگي کوي او که د هغه په اجازت او مرضی سره کوي خو دا يو ناوړه عمل دے چې عذاب يې زيات دے۔ لکه چې وائي:

> " د ښځې عبدالزوجه مطلب بنده د ښځې چې دا وربانديې زور وره وي۔ ټول د دې خله وي۔ يا د دې ښه نا ښه برداشت کوي۔ کوڅو کښې گرځي۔ په خپله مرضی په زيارتونو گرځي۔ يا يې اواز د حوېلی بهر ښوک اوري۔ يا يې خندا ښوک اوري۔ بلکې د پائلو د ځړی د اوازه پورې چې حديث دے۔

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31
ماخذ تحقیقی مجلہ

**ا نَّ اللّٰهَ يَبْغَضُ صُورَتَ الخَلْخِلَالَ كَمَا يَبْغِضُ الغنَاءَ أو يُعَافُ صَاحِبَه كَمَا يُعَاقِبُهُ الأمرُ وَلَا تَلْبِسُ خَلَخالَا ذَاتَ الأمْلَعُونَهُ۔**
**عذاب ئي هومره دے۔ اما د ښځي مېړه چې په دا راضي وي۔ هم عذاب، هم بې شرمي، هم ديوثي۔ هر چې په دا شرمونو محکم وي. هغه به په هر شرم پوهېږي۔" (۱۲)**

## د لور خور ودول

دا د نړی دود دستور دے چې لور خور به په يو خاص عمر کښې ودولې کيږي او د مور پلار او ورونو يې حد تر وسه دا کوشش کوي چې چا ته يې ودوي هغه دې په هر معيار پوره وي چې په دې سره هغه سوکاله ژوند تېر کړي۔ په دغه حواله د خوشحال دا نظريه ده چې وړومبے خو دې دا کوشش اوکړې شي چې په نېژدې رشته دارو کښې دې ورله رشته اوکړي او که دا ممکن نه وي نو بيا دې د داسې تن انتخاب اوکړې شي چې په اصل، نسب، حليه او خصوصً دين پوره پوره برابر وي۔ لکه وائي:

**" چې لور ودوې۔ ورته دې وکفو وشي۔ که په نېژدې خېلخانه کښې ممکن نه وي۔ چې په نسب، په اصل کېرلے نه وي۔ متحلي په حليه د ددين د صلاحيت وي داسې سړي ته دې ورکړې شي۔ په قرينه کښې چې د ځان نه زيات تېر وي۔ که ممکن وي د هغه سره دې هم۔ نه دې پکار چې لاندې وي هم نه دې پکار۔ لېر پاس کوز ټيک دي۔" (۱۳)**

دې سره سره خوشحال د لور په واده د ډېر خرڅ او هر دود دستور هم قائل دے او وائي چې ښه په شان و شوکت دې د لور د واده رسمونه تر سره کړې شي۔ لکه چې وائي:

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31
ماخذ تحقیقی مجلہ

" د لور واده ډېر شهرت پکار دے۔ لکه ډېر پخول، نقارې، سندرې، ډېر استول، که د خپلې لور طاقت وي هم.
خو د زوم د هغه ولور اخيستل پکار دي۔ داسې خو يې طاقت وي۔ په هيڅ حال ازار نه دې ورسول پکار۔ د خپشانو د طرفه، د خپل طرفه هر څنګه چې کار شه وي کول پکار دي۔ خوراک، مجلسونه، اغوستل، صحبتونه، راګ رنګ ايله نه ده پکار۔ د پلار کره د زوي حصه تل، خو د لور غريبي هم دا ورځ وي، چې د پلار په مال به د دې سر په فخر شي۔
په شرع هم د واده شهرت ټيک دے۔ که د واده نه پس لور ته ډېر څه ورکولې شي۔ داسې نه چې د واده د کار خرڅ۔ د لور د واده جوړه دې د ناوې په شان وي۔ لکه د دوي په خاندان کښې چې پخوا د واده دود څنګه شوے وي۔ خپل هغه دود دې نه بدلوي۔ لکه د پښتنو دود د پائنڅو د سرکاه، کشيده قميص، د مقنع دغه دودونه دې له لاسه نه ورکوي۔ او چې کله په دغه جوړه کښې واده شي۔ دې نه علاوه دې ورسره مهينې جوړې نورې هم وي۔ چې يې خوښې وي هغه دې اغوندي۔ لکه څنې، جلې سپين پرتوګ، اوربل، څنې دا دودونه دې چرته هم نه بدلوي۔" (١٤)

## د ښه شريکِ حيات انتخاب:

د شريکِ حيات يا د ژوند ملګري د انتخاب په اړه هم د خوشحال نظريات زمونږ د پښتون کلتور او اسلامي احکاماتو سره مطابق دي۔ په دغه حواله خوشحال وائي چې د ژوند ملګري په انتخاب کښې دې د شکل و صورت سره سره سيرت او

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31


خوئي خصلت او خانداني عزت ته هم کتلي شي او که ممکن وي نو هلک دي په خپله هم اوګوري او که نه وي- لکه چې وائي:

**" چې نکاح کړي- د نکاح کار مشکل دے- د ژوند ملګري خو هغه ښځه وايه- چې په اصل او نسب د لوئ کور نه وي- عفت، شرم، عصمت په هغه خاندان کښې مشهور و معروف وي- د دين کار پکښې رواج لري- په قرينه کښې دې د ځان نه شکته ګوري- لوئ د لوئ حسن، خويې خصلت، شمايل دې يې وکتلي شي- د شرع حکم د خپلو ليدو دے چې پخپلو سترګو دې يې اووينې- که دا ممکن نه وي نو په با اعتباره نساء يا په پير سړي دې اوګوري- په ځوان دې نه ويني- د ځوان په نظر هر رنګه ښځه، جل، جلوه ګره وي- که چېرې رنګ او خوئي يې دواړه ښه وي ګنج هم دې وائي-" (١٥)**

دې نه علاوه خوشحال هغه ښځه هم د ژوند ښه ملګري ګڼي کومه چې که په صورت نه وي ښائسته خو چې په سيرت او خوئي خصلت کښې ښه وي- لکه وائي:

**" که رنګ يې دومره نه وي- درميانه وي- د خويه ښه وي- په ښه خصلت، په ښه خوئي قبلول پکار دي- چې د باطن فرخي يې تر ظاهره ډيره ده- ګل که هر څومره ښکلے وي- خو يو څو ورځې دے- ګنه که سپېره درمه وي خوند پورې ارزښت لري- د اګر لرګي د بوئې پورې په قدر وي- د نيزدې رشته دارو دې نه وي- کم ذاته، کمينه دې نه وي-" (١٦)**

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31
ماخذ تحقیقی مجلّہ

## د خاوند تابعداري:

تابعداري چې چرته په هر کار او هره رشته کښې ضروري او مهمه ده هلته په ازدواجي ژوند کښې خصوصًا د ښځې دپاره لا مهمه او لازم ګڼلې شي- دا رنګ خوشحال هم د يوې ښځې د سوکاله ژوند دپاره د خاوند تابعداري لازم ګڼي او وائي چې ښه او بهترينه ښځه هغه ده چې د خپل خاوند په هر حال کښې تابعداره او منونکې وي- او په دغه حواله هغه وائي چې که خاوند يې شرابي وي نو دا دې ورسره هم شراب څښي، نرد او شطرنج لوبې دې ورسره کوي او يوه ښه مصاحبه دې وي- په غمونو دې يې غم خواره وي- او د واده ورانديې دې ورته دا نصيحت او دعا وکړې شي- لکه چې وائي:

"چې لور واده شي ورته دې دعا وکړې شي- دا ورته نصيحت دے چې په رضامندی دې د مېړه په خدمت کښې ځي- تر دې حده چې که مېړه يې شراب خور وي- دا دې هم ورسره شراب څښي- څه چې ورته فرمائي هغه دې کوي-

**قطعه:**

که يار دې شرابي دے
ته هم لا تر دهٔ بتر شه
که دے کفر اختيار کا
ته هم دهٔ سره کافر شه
که دے واورته زغلي
ته ترې يو قدم پېشتر شه
که دا هسې اونه کړې
درومه خاورې دې په سر شه

**که خاوند عالي فطرت وي- خواهش به يې د افسانې، د شعر، د قيصې د بيان وي- هغه دې وائي چې د هر وخت مناسب وي-**

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31

**شطرنج، په نرد دې ورسره مشغولا کړي۔ په سرو باندې ډېر غمونه، اندېښنې راځي چې ښه مصاحبه ښځه لري۔ په يو څه په بل څه يې غم غلط کوي۔ کار ډېر ښه دے۔ د ګناه نه دې په چل چل اړوي۔ (۱۷)**

خوشحال بابا د يوې ښځې دپاره د خاوند خدمت د هر څه نه افضل ګڼي او يوه بهترينه ښځه هغه ګڼي کومه چې د خپل خاوند دپاره په يو وخت کښې طبيبه، باورچي، درزي، دوبي او حتّي چې يوه وينځه او ډمه مطربه هم وي۔ لکه چې وائي:

**" د هر څه نه افضل د خاوند خدمت دے۔ ښه ښځه هغه ده چې هم د خاوند ښځه وي هم يې مصاحبه۔ طبيبه يې هم وي، باورچي يې هم وي، درزي يې هم وي، دوبي يې هم وي۔ وينځه يې هم وي، ډمه مطربه يې هم وي۔ بلکې چوهړې يې هم وي۔ دا چې اووۍيلې شو بس نور د خاوند د خپلوانو سره دې داسې وي۔ لکه د پلار په خاندان په ښادۍ او غم دې ورسره شريکه وي۔ د خواښې خدمت دې داسې کوي لکه خپلې مور۔ که سورېتې خدمتګارې يې د خاوند وي ټولې دې ښې ساتي۔ مرحمت، خلقت دې د هيچا نه درېغ نه لري۔ (۱۸)**

دا شان خوشحال بابا د يوې ښځې دپاره د خپل خاوند او د هغه د کور رازداري ساتل ډېر مهم او ضروري ګڼي او وائي:

**" که زړه يې د خاوند نه بد شي۔ پلار کور والؤ ته دې نه وائي۔ د پلار په کور دې نه سيله کوي۔ چې په سيله تعلق خراب شي۔ که د هر څه نه تېز شي خو چې لاس مات شي غاړې له ځي۔سيله دې**

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31


نه وي۔ هر وخت دې نور د پلار کور په ښه يادئ۔" (۱۹)

دا رنګ بل ځائې هغه ښځه لويه احمقه ګڼي کومه چې د خاوند په خدمت کښې کاهله وي۔ لکه چې وائي:

"بله هغه ښځه چې د خپل خاوند په خدمت کښې سُسته وي۔ د خاوند په رضامندۍ کښې د دې د دين د دنيا مراد او مقصد دے۔ د دې د زندګۍ عزت، برکت ټول په خاوند کښې دے، څو پېوندونه، حقونه ترمېنځ دي، چې په دې نه پوهېږي لوئې حماقت دے۔" (۲۰)

## د کور ساتنه:

خوشحال د يوې کاميابې ښځې دپاره دا هم ضروري ګڼي چې هغه دې د کور ساتنه او انتظام په ښه او غوره طريقه تر سره کوي۔ د ځان او کور په ارائش او سر څنه کښې دې ښه ځان کړوي۔ د مېلمه مېزمه په خاطر مدارت کښې دې مخکښې وي۔ د خوراک، څښاک، طعام او اخلې پخلې په کار کښې دې ويخه او بېداره وي۔ لکه چې وائي:

"د خوراک په کار دې ويخه وي۔ د مېلمه مېزمه دې هر قسم حنات، فواکهات، اشربات، تنقا، غلات مهيا وي۔ که چرته خاوند يې کور کښې نه وي۔ د مېلمه خاطر خواه او حاضري وکړي۔ لکه مېوه وغېره (تر څو چې خوراک پخېږي او لوږے کلے شوم مات نه ئي۔ دا خوراک لازم دے لکه طباخونه، خوان پوستونه، رکېبۍ، دسترخوانونه دا دې ټول په ځائې وي۔ چې فروګذاشت، فوت په هيڅ کښې ونه کړي شي۔ دا دې سنبال وي چې د خاوند نېکنامي يې پرې کيږي۔ په هغه دې کلکه ولاړه وي۔ چې د نيکه

ماخذ تحقیقی مجلہ
ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31

خاندان به یې په کارونو ښه یاد شي-"
(۲۱)

## پت پالنه:

پت چې په یارۍ دوستۍ کښې اعتماد او باور ته وئیلې شي- او خصوصًا د مېړه او ښځې ترمېنځ رشته کښې د وفا نامه ده خواه هغه که په ژوند وي او که د مرګ نه پس- خوشحال په دغه اړه وائي چې که چرې د یوې ښځې خاوند وفات شي نو بې ځایه چغې او ژړاګانې دې نه کوي په یوه ناره دې اوژاړي او د اولاد دپاره دې ژوند وقف کړي- او که بل واده کوي نو هم په شرع برابر خبره ده او څه علت پکښې نشته- لکه چې وائي:

**"ورومبے خو دې مرګ ښځې تر زوج په وړاندې وي- او که خاوند یې مړ شي قضا رضا ده- فزع، جزع چغې دې نه وهي- په حکم د شرع دې کار کوي- په چغه دې وژاړي-**

**غزل:**

که رشتنے محبت لرې مه نارړه،
په یوه ناره بېل شوے یار وژاړه،
د رسا ویشتلي کله توان د غږ وي،
په فراق کښې نارې مه وهه له باړه،
په معنې کښې جدائي نشته دے،
د اشنا په غم کښې خوښ اوسه بل ویاړه،
په هجران کښې هغه هسې شان وصال شته،
لکه څوک له خپله یاره لاس تر غاړه،

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31


دا دیدن لکه په پټې سترګې کېږي،
دا دیدن له وازو سترګو نه مه غواړه،
لیلي پلار کره په سل پردې کښې ناسته،
مخامخ وه ومجنون وته ولاړه،
پس له مرګه هم جدا نه وې رښتینې،
په یوه لحد کښې ورشي سره دواړه،
د رښتینې مینې ډار د زوال نشته،
چې ریښتینې پت لري سلام په واړه،
د یار پت دې د خوشحال له دله نه ځي،
د فاني دنیا خوښي که لاړه لاړه-" (۲۲)

دغه شان وړاندې په دې باب د یو حدیث شریف حواله هم راوړي او وائي-

**"د پت پالنه شرط دے خاص طور د ملوکانو د لوریانو- په مخ خو چندن یو ځل پورې کیږي- د کُنځلو سره خو یو ځل د چنبې ګل پرېوځي- په جلې خو یو ځل سندرې وئیلې شي- په دې باب د رسالت پناه حدیث دے،**

**انا وامراة سفعاء الخدین کهاتین یوم القیامة، واوما باالوسطی والسبابة، امراة آمت من زوجها ذات منصب وجمال و حبست نفسها علی یتاماها حتی بانوا او ماتوا-**

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31
ماخذ تحقیقی مجلہ

د دې حدیث معنې دا دي چې څوک د لویه ځایه وي۔ د دې خاوند مړ شي۔ صاحبه نسب، صاحبه جمال دا بل خاوند اونه کړي۔ د بچو مور وي۔ د خاوند غم پرې داسې ولګي چې د مخ ګونه یې بدله شي۔ په مخ یې توره سیاهي لکه ترسیري وزغلي۔ هغه ښځه به زما سره جنت داسې یو ځائې ځي۔ لکه سبا به او وسطي ګُتې چې یو ځائې دي۔ میانه ګوته، سبا به او وسطي به ورپورې۔ څوک چې وائي چې کونډه دې خاوند کوي۔ یعني خاوند په شرع روغ دے۔ که یې اوکړي ثواب پکښې دے۔ لکه چې د پېغمبر حدیث دے۔ پت پالنه د لویو کورونو طریقه هم دا ده۔ ننګ ناموس، شرم په دې کښې دے۔ نور دې مطلقًا ارائش، زېب و زینت نه وي۔ نه د غوړو نه د پوزې۔ د طاعت، د اغوستلو د عبادت سپینې جامې دې وي۔ تل دې په عبادت مشغوله وي۔ له خدایه دې د خاوند بخښنه غواړي۔" (۲۳)

## وینځه/خدمتګاره:

د وینځې یا خدمتګارې په بابله هم خوشحال زړه سواندي او همدردانه روّیه لري۔ او وائي چې که څوک مخلصه وینځه یا خدمتګاره لري نو د خپلې مېرمنې سره دې په ادب لري۔ هغه د وینځې په مقابله کښې د مېرمنې حق زیات ګڼي۔ که د دوي ترمېنځ څه کشاله پېدا شي نو د صبر او تحمل نه دې کار واخیستې شي او که داسې نه وي نو په غرض د مصلحت دې ځانله ځایونو کښې اوساتلې شي۔ لکه وائي:

"خدائې دې هر چا ته ښه مخلصه غلامه ورکړي۔ د مېرمنو سره دې په محل کښې

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31
ماخذ تحقیقی مجلہ

داخلي ټولي خدمتګارۍ په ادب وي۔ که ډېر خاطر، تعلق ورسره لري ځانله دې يې ساتي چې د دې په ناز او نياز مېرمنې هيچرې خبر نه شي۔ که چرته خبرې پرې شي۔ جبلي غېرت د ښځو ډېر وي۔ د کور لوځ سړے که بيا حفظ وکا خوښه۔ او ګڼې مېرمنه او وينځه سره داسې فرق لري لکه خر او آس۔ خر د آس په وړاندې هېڅ وجود نه لري اما وار به پرې جوړ کړه۔ آب به د خره وباسي۔ په هېڅ وجه هاله ده دپاره نه دي پکار۔ چې د مېرمنې سره به د وينځې په وجه وائي۔ په تحمل په خندا تېره کړي۔ د ديو داسې کارونه چې څومره برداشت کړي۔ دومره بهتر۔ هم د ده دپاره فائده لري۔ هم د خدمتګارۍ دپاره فائده لري۔ بل وخت چې کله د مېرمنې غصه سَړه شي۔ مېرمنه چې څنګه مېرمنه وي۔ د خپله لاسه به هغه خدمتګاره ونمانځي۔ که کينه يې ورسره شروع کړه نو د مېرمنې له نظره دې البته غائبه ساتي۔ خدمتګارۍ دې چرته هم په سر نه خېژوي ( يوه بده مېرمنه يو خوا ډېرې ښې خدمتګارۍ بل خوا ) چرته سره زر چرته سپين زر چې په دې هم نه پوهيږي هغه خاوند به هم څه خاوند وي۔" (۲٤)

په دستارنامه کښې د خوشحال خان خټک د ښځو په حقله د نظرياتو سنجولو نه دا خبره په ډاګه شوه چې د هغه نظريات په دغه حواله د پښتونولۍ او اسلامي احکاماتو سره عېن مطابق او ورته دي، هغه د ښځو ټول بنيادي حقونه په ځائې او مسلّم ګڼي او د نړۍ يو مهم کردار يې بولي۔

ISSN (P): 2709-9636 | ISSN (O): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31


هغه غواړي چې هره ښځه دې د وخت د مروجه ټولو علومو په کالو ښائسته وي، هر هنر دې زده وي، او په معاشرې کښې دې ورته د عزت او احترام مقام ورکړې شي۔

## حواله جات


۱. خدیجه فېروز الدین، ډاکټر، خوشحال خان خټک(حیات و فن)، اردو ترجمه: اقبال نسیم خټک، ناشر: اکادمي ادبیات پاکستان ایچ ایټ ون اسلام آباد، کال: ۲۰۰٤ء، مخ: ۷۹۔
۲. خټک، افضل خان، تاریخ مرصع قلمي، مرتبه: دوست محمدؐ خان کامل مهمند، مخ: ۲۵۸۔
۳. مېجر راورټي، پښتو ګرامر، مخ: ۱٤۷۔
٤. کامل، دوست محمدؐ خان مهمند، خوشحال خان خټک(سوانح حیات)، دویم اېډیشن، ناشر: شاهین بکس، کال: ۲۰۰٦ء، مخونه: ۲۸۳ نه تر ۲۸۸ پورې۔
٥. کامل، دوست محمدؐ خان مهمند، خوشحال خان خټک(سوانح حیات)، دویم اېډیشن، ناشر: شاهین بکس، کال: ۲۰۰٦ء، مخ: ۲۸۷۔
٦. (٦)خټک، خوشحال خان، دستارنامه، تحقیق سمونه او حاشي او ناشر: ډاکټر یار محمدؐ مغموم خټک، کال: ۲۰۰٥ء، مخ: ۲۱۳۔
۷. هم دغه اثر، مخ: ۱۰٦۔
۸. هم دغه اثر، مخونه: ۱۱۰ نه تر ۱۱۱ پورې۔
۹. محمدؐ بن داود هوتک، پټه خزانه، خپرووونکي: پښتو نړیواله مرکه، کال: ۲۰۱٦ء، مخ: ۱۳۹۔
۱۰. خټک، افضل خان، تاریخ مرصع قلمي، مرتبه: دوست محمدؐ خان کامل مهمند، مخ: ۳۱٥۔
۱۱. هم دغه اثر، مخونه: ۱۱۱ نه تر ۱۱۲ پورې۔
۱۲. هم دغه اثر، مخ: ۱٥۷۔
۱۳. هم دغه اثر، مخونه: ۱۱۲ نه تر ۱۱۳ پورې۔

ISSN (**P**): 2709-9636 | ISSN (**O**): 2709-9644
**Volume 4, Issue 3, (July to Sep 2023)**
https://doi.org/10.47205/makhz.2023(4-III)urdu-31


١٤. هم دغه اثر، مخ: ١١٣-
١٥. هم دغه اثر، مخ: ٩١-
١٦. هم دغه اثر، مخ: ٩١-
١٧. هم دغه اثر، مخ: ١١٣-
١٨. هم دغه اثر، مخ: ١١٥-
١٩. هم دغه اثر، مخ: ١١٥-
٢٠. هم دغه اثر، مخ: ٢٠٥-
٢١. هم دغه اثر، مخ: ١١٤-
٢٢. هم دغه اثر، مخونه: ١١٥ نه تر ١١٦ پورې-
٢٣. هم دغه اثر، مخونه: ١١٦ نه تر ١١٧ پورې-
٢٤. هم دغه اثر، مخونه: ١١٨ نه تر ١١٩ پورې-